د سلام نړیوال علمي ژورنال
Salam International Academic Journal
*Journal Homepage:* https://journal.salam.edu.af
لسم کال، شمیره ۱۷، پسرلی، کال ۱۴۰۴هـ ش

# د شرعي هجرت او معاصرې کډوالی پرتله معنی او مفهوم،مشابهتونه او توپیرونه

پوهنمل ډاکتر فصیح الله عبدالباقي[1]، ابوبکر مدقق[2] او شکرالله مخلص[3]

DOI: 10.64104/v10.Issue.17.n5.2025

ISSN: 3078-9583 (Online)    ISSN: 3078-9575 (Print)
تاریخ نشر: ۱۴۰۴/۰۵/۰۸    تعداد صفحات: ۱۶    از صفحه ۷۶ تا ۹۱

## د څېړنې لنډيز

د "شرعي هجرت" او "معاصرو هجرتونو او کډواليو" ترمنځ پرتله، له ديني، تاريخي، ټولنيز او حقوقي اړخونو له پلوه يوه ارزښتناکه او مهمه څېړنه ده. دا څېړنه د توصيفي ـ تحليلي مېتود پر بنسټ تر سره شوې ده، چې د اسلامي او لغوي منابعو په رڼا کې د هجرت معنا او مفهوم بیانوي، تاريخي واقعيتونو ته اشاره کوي، او د معاصرو کډواليو بېلابېلې بڼې او ډولونه روښانه کوي او ځېنط حقوقي اړخونو ته يې اشاره کوي.

په څېړنه کې د "هجرت" اصطلاح د اسلامي فقهې له مخې داسې تعريف شوې چې د ظلم، فتنې او په دين له آزادانه عمل څخه د مخنيوي په صورت کې، مسلمان له خپل ټاټوبي څخه بل ځای ته انتقالېږي. او "کډوالي" او "مهاجرت" د معاصرو حقوقي اعتبارونو له مخې هغه پروسه ده چې د اقتصادي، ټولنيزو، امنيتي يا طبيعي عواملو له امله له يوه ځای څخه بل ځای ته د انسان د موقتي يا دوامدار انتقال سبب گرځي.

همدارز په ليکنه ورته اصطلاحات لکه " پناه غوښتنه "، "جبري مهاجرت"، "مؤقته" او "دايمي مهاجرتونه" هم د نړيوالو تعريفونو له اړخه تحليل شوي، تر څو د معاصرو کډواليو ټول اړخونه لا ښه وپېژندل شي، او د شرعي هجرت او معاصرو کډواليو ترمنځ مفهومي، ارزښتي او حقوقي توپيرونه او مشابهتونه روښانه شي.

دا څېړنه هڅه کوي وښيي چې، که څه هم دا دواړه پديدې په ظاهري توگه سره ورته ښکاري، خو د اهدافو، شرايطو، حقوقي پايلو او انساني حيثيت له پلوه له يو بل څخه جلا او ځانگړې واقعيتونه لري.

**کليدي کليمې: شرعي هجرت، معاصرې کډوالی، مشابهتونه او توپيرونه، مفهوم**

[1] د سلام پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځی استاذ. Fasih.1392@gmail.com
[2] دسلام پوهنتون د حقوقو او سیاسی علومو د پوهنځي استاذ. a.mudaqiq21@gmail.com
[3] د تفسیر او حدیث د ماسټری ښوونکی او د پوهنتون د ماسټری بورډ رییس. +93 78 788 4612، skukrullah2@gmail.com

استفاده از مقالات مجله با ذکر نام و مصدر مجاز می باشد
The use of the journal's articles is permitted provided that the author's name and the source are properly cited.